**مطبوعاتي اعلاميه**

## په رياض کې د عرب – اسلامي هېوادونو د مشرانو بيړنۍ غونډه کې هېڅ اقدام ونه شو!

(ژباړه)

د سعودي په پلازمېنه، رياض کې له غزې سره د مرستې تر سرليک لاندې د عرب – اسلامي هېوادونو بيړنۍ غونډه جوړه شوه. خو د مسلمانانو حکامو د تېرو غونډو په څېر دا هم تشې خبرې وې. سره له دې چې دوی ډېر پياوړي پوځونه لري، خو چارواکي يې د امريکا د امرونو تابع دي. د پايلې په توګه، دوی يوازې په تشو خبرو او غندنو ځانونه خوشاله کوي. که په دغې غونډه کې د دوی پر ځای شاعرانو ګډون کړی وی، د جهاد په اړه به يې لږ تر لږه شعرونه ويلي وی؛ خو دغو حکامو خپل غيرت او شرافت بايللی او تر مسلمانانو ډېر يهودانو ته ورته دي! الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَاؤُواْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللهِ]** [بقرة: ٦١]

**ژباړه**: «په پای کې (د الله له امر څخه د سرغړونې له امله) خبره دې ته ورسېده چې ذلت او خواري، بېوزلي او بده ورځ پرې راغله او د الله تعالی په غضب اخته شول.»

**ای هغو مسلمانانو، چې منبرونه او رسنۍ مو په واک کې دي:**

د پوځونو له حرکت پرته په تشو شعارونو عامه افکار مه ګډوډئ! نن ورځ د پوځونو له حرکت او پر يهودو له بريد پرته بل ډول غزې ته ګټه نه رسېږي. ټول مسلمانان د دې شېبې په تمه دي چې د فلسطين سپېڅلې خاورې د ژغورنې لپاره د خپلو پوځونو تر څنګ ودرېږي. خلک ګوري او له غوسې يې زړونه پړسېدلی؛ خو په هغو بندو پولو کې بنديان دي چې پوځونه يې ساتي. نو يوازينی حل لاره د پوځونو په سمبالولو او د پولو په له منځه وړلو سره د معادلې بدلون دی. يهودو ته خپل پيغامونه مخامخ ووايئ او د لښکرو پر سمبالولو او حرکت ورکولو تمرکز وکړئ.

**اې مسلمانانو، اې د مسلمانانو د پوځونو سرتېرو:**

هر څوک يو فرصت لري؛ دا ستاسو فرصت دی، نو ګټه ترې واخلئ. ايا تاسو جنګيالي نه يئ؟ روزل شوي سرتيري نه يئ؟ زړور نه يئ؟ ايا تاسو د جنت او هغه څه په لټه کې نه يئ چې الله سبحانه وتعالی په جنت کې مجاهدينو ته چمتو کړي؟ په دغه سخت وخت کې د فلسطين سپېڅلې خاورې ته نصرت ورکړئ. د دغه فرصت له بايللو وړاندې عمل وکړئ. څوک

چې نن فلسطین ته نصرت ورکړي؛ نوم به یې په اسلامي تاریخ کې د خالد بن ولید، عبیده بن جراح او صلاح الدین په څیر ولیکل شي.

**اې هغو مسلمانانو چې د غزې له غمه مو زړونه چوي:**

وضعیت تریخ دی؛ هره ورځ تړولوژنه کیږي او هره شپه د شهیدانو خبرونه اورو. دا د بې پرې کېدو او له تکلیفه د ځان خلاصولو وخت نه دی. د حل لاره یوازې د پوځونو بسیج کول دي. هغوی ولټوئ، خپل مخاطب یې کړئ او پر هغوی شاهد اوسئ؛ ځکه هغوی ستاسو په منځ کې او له تاسو څخه دي. مه پرېږدئ چې په دغه حساس او نازک وخت کې سستي وکړي. دوی ته یې خپل مسولیت وریاد کړئ او پر وړاندې یې شاهدان اوسئ. دوی ته د الله سبحانه و تعالی دا قول وریاد کړئ:

**[وَإِن تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْماً غَيْرَكُمْ ثُمَّ لا يَكُونُوا أَمْثَالَكُمْ]** [محمد: ۳۸]

ژباړه: «که تاسو مخ واړوئ، نو الله تعالی به ستاسو پر ځای کوم بل قوم راولي او هغوی به ستاسو په څېر نه وي»

**انجنیر صلاح الدین عضاضه**

**د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربیع الثاني ۳۰مه**

**۲۰۲۳م کال، د نومبر ۱۴مه**

**د صدور گڼه: ۱۴۴۵/۰۱۵**

**ژباړن: محمد حامد**